جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

ECC

دافغانستان اسلامی جمهوریت
دانتخاباتو دشکایتونو کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

---

# د انتخاباتي شکايتونو کميسيون اعلاميه

کابل۱۳۸۹/۳/۱۲

د انتخاباتو خپلواک کميسيون د انتخاباتي شکايتونو کميسيون، د غبرګولي ددريمی نيټی د پريکړي پر بنسټ؛ د ولسي جرګې ۲۲۶ داوطلب کانديدانو ته چې نه وه توانيدلي د ولسي جرګې د انتخاباتو لومړني ليست ته لاره پيدا کړي ، لږ تر لږه پنځه ورځې ( د غبرګولي د څلورمې نيټې څخه تر اتمې نيټې ) پورې وخت ورکړ تر څو د خپلو اسنادو تخنيکي غلطی اصلاح کړي.

د انتخاباتو خپلواک کميسيون د ټاکل شوي مودې څخه وروسته په ۱۱/۳/۱۳۸۹ نيټې اعلان وکړ، چې د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره ۱۸۸ تنه کانديدان دنوم ليکنی په بهير کی د غلطيو د اصلاح او د ا سنادو د جوړولو وروسته لومړني ليست ته لاره پيدا کړې.

اوس د انتخاباتي شکايتونو کميسيون د ټولو رايو ورکونکو څخه غوښتنه کوي که چيرې ددغو نوماندانو په هکله نيوکې ولري، کولای شي د غبرګولي د دولسمي نيټې څخه تر اتلسمي نيټې پورې خپلې نيوکې په مرکز او ولايتونو کې د انتخاباتي شکايتونود کميسيون دفترونو ته وسپاري.

د انتخاباتي شکايتونو کميسيون د ولسي جرګې د انتخاباتو په لومړني ليست کې ددغو نويو نوماندانو په هکله د احتمالي اعتراضاتو د څېړنو وروسته تصميم نيسي .

## د انتخاباتي شکايتونو کميسيون